لیکوالان: لیون پولادا او لیلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada ۲۰۲۰/۰۹/۲۸
مترجم: عبدالباري جهاني


# د افغانستان شاهي دولت او متحده ایالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

شپږمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډیپلومات لیون پولادا او د هغه مېرمني لیلا پولادا لیکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امریکاد اړیکو په اړه دی خو ځیني فصلونه یي د افغانستان له اوسنیو حالاتو سره مستقیم تړاو لري ما یي هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه یقین لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاریخ د علاقه مندانو او تاریخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## شپږم فصل

### پښتونستان ۲: زهر د دوستی په خُم کي

### زهر خمیر سول او و ایشېدل

### The Poison Brew Boils Over

په ۱۹۵۳ کال کي داوود خان، چي یو ځوان او د انرژۍ ډک جنرال او د ظاهرشاه د کاکا زوی وو، په شاهي کورنۍ کي له زاړه نسل څخه ځوان نسل ته د قدرت د انتقال په نتیجه کي، د افغانستان صدراعظم سو. دی یو معلوم پښتون نېشلیسټ وو او د ده د پالیسیو د منځ ټکی د افغانستان چټک عصري کول او د پښتونستان لپاره د آزادی اخیستل وه. له پاکستان سره د ده مقابله په ۱۹۵۵ کال کي هغه وخت اوج ته ورسېده چي د بیرغ پیښي منځته راغلې او دواړه هیوادونه د جنګ سرحد ته ورسېدل.

د اړیکو د اوراخیستني او یا چاودني ماشه، د ۱۹۵۵ کال د مارچ پر اووه ویشتمه، د پاکستان هغه اعلان وو چي ویل یې د لوېدیځ پاکستان ټول ولایتونه په یوه یونیټ یا واحد کي شاملوي. د دې اقدام هدف دا وو چي په ملي پارلمان کي لوېدیځو قبایلو ته برخه ورکړي او په دې توګه له ختیځ پاکستان سره، چي نفوس یې تر غربي پاکستان زیات وو، په پارلمان کي انډول برابر کړي. په دې توګه نو د شمال لوېدیځ د سرحد ولایت، چي اکثریت اوسېدونکي یې پښتانه وه، په یوه یونیټ کي شاملېدل. داوود خان د مارچ پر نهه ویشتمه په یوه راډیویي وینا کي د پاکستان دا فیصله محکومه کړه او هغه یې په پاکستان کي د پښتنو د مدغمولو او تباه کولو کوښښ وباله. په سبا یې هغو مظاهره کونکو چي حکومت لمسولي ول په کابل کي د پاکستان پر سفارت او په جلال آباد او کندهار کي د هغه هیواد پر قونسلګریو باندي حملې وکړې. دوی په ودانیو کي ورانکاری وکړې، د پاکستان بیرغ یې څیري کړ او ویې سوځاوه. دوی دغه راز د پاکستان د سفیر د کورني عکسونو البوم څیري او د هغه د مېرمني سارۍ یې تباه کړې. د اپرېل پر لومړۍ نېټه د پاکستان حکومت هم خپل خلک وپارول او هغوی په کوټه او پېښور کي د افغانستان پر قونسلګریو باندي حملې وکړې.

نن سبا، په نړۍ کي، دغه ډول پیښي یو ډول عادي دي؛ مګر په ۱۹۵۵ کال کي د یوه هیواد د سفارت پر وداني باندي حمله ډېره جدي نیول کېده. دواړو هیوادونو جنګ ته تیاری وکړ. د افغانستان او پاکستان اتباع یا اخراج سول او یا دواړو هیوادونو ور وبلل. وسله والي قواوي پر حرکت راغلې. پاکستان، افغانستان ته پر ټرانزیټ مالونو باندي بندیز ولګاوه. دواړو هیوادونو له یوه بل څخه د بخښني او تاوان غوښتنه وکړه. کله چي په دواړو هیوادونو کي یو هم عفو غوښتني او تاوان ورکولو ته حاضر نه سو نو دواړو هیوادونو خپل سفارتونه او قوانسلګري بندي کړې. پاکستان افغانستان ته اولټیماټوم ورکړ او تهدید یې وکړ چي که هغه هیواد د مې تر پنځه لسمي پوري تاوان ورنه کړي نو سخت اقدامات به وکړي. پاکستان غوښتل چي داوود خان را وپرزوي یا یې د پاچا په وسیله برطرف کړي او یا د هغه په




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څیر و لولئ

مقابل کي قبايل را وپاروي او د متحده ايالاتو ځخه يې مرسته وغوښته. په کابل کي د امريکا سفير وارډ او د سي آی ای د مرکز آمر له پاکستان سره د همکاری کولو غوښتنه کوله مګر واشنګټن دغه راز اقدام مطلق رد کړ.
په دغه حساس او سخت حالت کي، پاکستان او افغانستان دواړو له امريکا ځخه د منځګړتوب غوښتنه وکړه. مګر متحده ايالاتو وويل چي نه غواړي په داسي قضيه کي چي نه په پوهيږي لاس ووهي. په ۱۹۵۰ کال کي د امريکا منځګړتوب کوښښونو هيڅ نتيجه نه وه ورکړې نو واشنګټن نه غوښتل چي خپلي ګوتي يو ځل بيا وسوځوي. امريکا دغه راز احساس وکړ چي اصلي موضوع د پاکستان د يوه يونيټ جوړول دي چي هغه د پاکستان خپله داخلي مسله ده.
د ۱۹۵۵ کال د اپرېل پر شپږويشتمه سفيروارډ، د، ورکړه سوي هدايت سره سم، له ظاهرشاه سره وکتل او له هغه ځخه يي د يوه سوله ايز حل او يوې معقولي اصلاح غوښتنه وکړه. پاچا په جواب کي ورته وويل چي افغانستان د اصلاح راوستلو ته تيار دی مګر ابتکار بايد پاکستان واخلي او بيا به افغانستان هم بالمثل عمل وکړي؛ ځکه چي د دې حالت د راوستلو مسوول پاکستان دی. هغه هيواد غواړي چي پښتانه په يوه يونيټ کي مدغم کړي او د هغوی عمل د تشدد د پيل کېدلو سبب سو. څو ورځي وروسته په واشنګټن کي د پاکستان سفير امجدعلي له خارجه وزير جان فوسټر ډلس John Foster Dulles سره وکتل او هغه ته يې وويل چي داوود خان بايد له کاره ګوښه سي او له متحده ايالاتو ځخه يي وغوښتل چي پر ظاهرشاه باندي فشار واچوي چي هغه برطرفه کړي. ډلس د هغه غوښتنه رد کړه او وې ويل چي پر ظاهرشاه باندي د فشار اچول به داوود خان نور هم تقويه کړي او په افغانستان کي به د شوروي اتحاد نفوذ زيات کړي. ده دغه راز امجدعلي ته خبرداری ورکړ چي متحده ايالات به، پر افغانستان باندي د هر ډول يرغل په صورت کي، د امريکا له پوځي وسايلو ځخه کار اخيستل ونه مني.
په کراچي کي د امريکا سفير هورئيس هيلډرئيس Horace Hildreth ته د پاکستان مقاماتو وويل چي افغانستان به ډېر ژر د اقتصادي محاصرې تر فشار لاندي خم سي؛ ځکه چي شوروي اتحاد د پاکستان له لاري د ټرانزيټ سره رقابت نه سي کولای. دا همدغه اقتصادي محاصره او په افغانستان کي د شوروي اتحاد پر نفوذ باندي د هغې اغېزه وه چي واشنګټن ته يې انديښنه پيدا کړې وه. په لومړي سر کي د امريکا پاليسي دا وه چي په دغه اقتصادي محاصره کي لاس ونه وهي ځکه چي دا يوه حساسه مسله وه او په داسي حال کي رامنځته سوې وه چي امريکا له پاکستان سره د بغداد په پکټ کي د شامليدلو په باب خبري کولې. مګر امريکا کرار کرار په دې قانع سوه چي پاکستان په خپل دې نظر کي پر غلطه دی چي وايي شوروي اتحاد د ټرانزيټ لاري په مسله کي د پاکستان ځای نه سي نيولای او د اقتصادي محاصرې دوام به بالاخره له آزادي نړۍ سره د افغانستان اړيکي تباه کړي. دا محاصره دغه راز د امريکا د مرستو مهمو پروژو ته هم سخت تاوان رساوه. سردار نعيم د جون پر څلېرويشتمه ډلس ته وويل چي دغه اقتصادي محاصره به افغانستان په بشپړه توګه شوروي اتحاد ته محتاج کړي او افغانستان نه غواړي چي دا پېښه سي.
په کابل کي د امريکا سفير وارډ، په دغه وخت کي ډېر افراطي دريځ غوره کړی وو. ده، د مي په مياشت کي، واشنګټن ته رپوټ ورکړ چي ګومان نه کوي اقتصادي فشارونه دي داوود خان را وپرزوي. ده واشنګټن ته توصيه وکړه چي داسي عمل بايد وسي چي د افغانانو عقل سر ته ورولي. امريکا بايد ظاهرشاه ته خبرداری ورکړي چي که داوود خان له کاره ليري نه کړي نو امريکا به له هغه هيواد سره خپل د مرستو ټول پروګرامونه بند کړي. خارجه وزير ډلس د دغه راز عمل کولو ملاتړ ونه کړ. ده په کراچي کي د امريکا سفير هيلډرئيس ته هدايت ورکړ چي پاکستان ته ووايي چي د افغانستان د اقتصادي محاصرې تر ګټي تاوان ډېر دی؛ په هغه هيواد کي د امريکا پروګرامونو ته تاوان رسوي او افغانستان د شوروي اتحاد لمني ته اچوي. هيلډرئيس، د ۱۹۵۵ کال د جولای پر ديرويشتمه، د هدايت سره سم، د پاکستان صدراعظم محمدعلي ته د امريکا د خارجه وزارت خبرداری ورساوه او هغه په جواب کي ورته وويل چي افغانستان ته د امريکايي پروژو د سامانانو پر انتقالولو به غور وکړي مګر افغانان د بلي تجارتي لاري د پرانيستلو په برخه کي هسي لاپي کوي او متحده ايالاتو هم د افغانستان په باب بې اندازې نرم دريځ غوره کړی دی او د خپل متحد پاکستان ملاتړ نه کوي. افغانستان د اګسټ په مياشت کي له شوروي اتحاد سره يو جامع ټرانزيټ تړون لاسليک کړ او افغانانو د شوروي له لاري تجارت پيل کړ.
ضمناً مصر، ايران، عراق، ترکيې او سعودي عربستان د منځګړتوب پيشنهاد وکړ او پاکستان او افغانستان دواړو د دوی پيشنهاد ومانه. دې منځګړتوب وضع يو څه کراره کړه او پاکستان د داوود خان د راپرزولو له فکر ځخه لاس واخيست.
دا ځرګنده نه ده چي د وضع په کرارولو کي د امريکا خبرداري څومره ګټه وکړه خو، له دې ځخه وروسته، د پاکستان مقاماتو ادعا وکړه چي امريکا د پاکستان د سخت دريځ ملاتړ ونه کړ او په افغانستان کي يې د شوروي اتحاد نفوذ تشويق کړ او په نتيجه کي آزادي نړۍ افغانستان له لاسه ورکړ او هغه د شوروي ملګری سو. د پاکستان دا ادعا د تاريخ د « ځشي او که » What ifs له سوالونو ځخه ده چي نه يې ځوک ثابتولای او نه يې ردولای سي. په دې کي هيڅ شک نسته چي د بيرغونو د سوځولو پيښه او په نتيجه کي د افغانستان د تجارتي لارو بندول د افغانستان، پاکستان، متحده ايالاتو او شوروي اتحاد په اړيکو کي د تغييراتو د راتللو پيل وو. دا هم حقيقت دی چي متحده ايالاتو د دې وضعيت په وروستۍ صحنه کي مهم رول ولوباوه. که څه هم چي متحده ايالاتو د پاکستان او افغانستان تر منځ د منځګړتوب کولو ځخه ډډه وکړه مګر د هغوی د اړيکو د رغولو او بهترولو په ډيپلوماسي کي يې فعاله ونده واخيستله.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

د دواړو هیوادونو څخه یې د نرمښت ښودلو غوښتنه کوله او دواړه یې د منځني ختیځ د هیوادونو د منځګړتوب منلو ته تشویقول.
د ۱۹۵۵ کال د سپټمبر په میاشت کې د منځګړتوب کوښښونه بالاخره بریالي سول او دواړو هیوادونو موافقه وکړه چې خپل دریځونه به اصلاح کوي. منځګړو پر افغانستان باندې فشار واچاوه چې لومړی باید هغه هیواد خپل دریځ نرم کړي او د سپټمبر پر لسمه د صدراعظم مرستیال سردار نعیم د پاکستان سفارت ته ورغی او د هغه هیواد بیرغ یې په بشپړ عزت پورته کړ. نورو وزیرانو په جلال آباد او کندهار کې همدغه کار وکړ. د پاکستان وزیرانو هم د افغانستان په قونسلګریو کې د هغه هیواد بیرغ پورته کړ. عاجل بحران ختم سو.
د افغانانو غرور ته ژوره صدمه ورسېده. د پښتنو په اصطلاح افغانان تسلیمېدلو ته مجبور کړه سول. نعیم په خصوصي مجلس کې چاته ویلي وه چې د پاکستان د بیرغ پورته کول داسې عمل وو چې د ده په ژوند کې یې د هغه په خبر سپکاوی نه وو احساس کړی. د افغانستان نورو مشرانو هم دغه ته ورته احساس درلود او ویل یې چې دوی به بیا په ژوند کې د پاکستان فشار ته هیڅ وخت تسلیم نه سي او له هرې خوا چې کېږي خپل قوت به زیاتوي. د بیرغ پېښه د شوروي غېږې ته د افغانستان د لوېدلو یو علت سو او لږ وخت وروسته د دواړو هیوادونو اړیکې مخ پر زیاتېدلو سول.
د بیرغ د پیښې د حلېدلو په نتیجه کې، متحده ایالاتو کوښښ وکړ چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ پخلاینه پراخه کړي.
د ۱۹۵۵ کال د اکتوبر په میاشت کې جمهوررئیس ایزنهاور ظاهرشاه ته یو لیک واستاوه او هغه ته یې ولیکل چې له پاکستان سره د اړیکو په لا بهترولو کې مرسته وکړي. ظاهرشاه ډېر نرم جواب ورته ولیکی خو چنداني ژمنه یې نه وه پکښې کړې. د نورو امریکایي مقاماتو د کوښښونو په نتیجه کې د ظاهرشاه او د پاکستان د جنرال سکندر میرزا ترمنځ په ۱۹۵۶ کال کې یوه غونډه سوه او وروسته داوود خان او د پاکستان صدراعظم او محمدعلي او سهروردي سره وکتل. له دې ډیپلوماتیکو لیدنو کتنو څخه له یوې څخه هم کومه مهمه نتیجه ترلاسه نه سوه.
د بیرغ د پیښې د حلېدلو څخه درې میاشتې وروسته د ۱۹۵۵ کال د ډسمبر په میاشت کې بولګانین او خروسچیف، په یوه رسمي سفر، کابل ته ورسېدل او افغانستان ته یې د انکشافي پروژو لپاره د سلو میلیونو ډالرو مشهور پور ورکړ.
د اکثرو افغان مقاماتو په نظر د شوروي تر ډېر اقتصادي مرستې لا، د شوروي له خوا، د پښتونستان د مسلې ملاتړ مهم وو. افغانانو فکر وکړ چې دوی نور د پاکستان په مقابل کې یوازې او کمزوري نه دي. د پښتونستان مسله، چې مخکې د دوو اسیایي هیوادونو ترمنځ یوه مسله وه اوس په یوه بین المللي جنجال تبدیله سوې وه او د نړۍ دوه لوی قدرتونه یې د یوه بل په مقابل کې درولي وه. واشنګټن په ظاهره داسې ښودله چې د پاکستان ملاتړ نه کوي مګر په حقیقت کې له پاکستان سره پوځي اتحاد هغه د یوه بېطرف او بې غرضه منځګړتوب څخه منع کاوه. په مقابل کې شوروي اتحاد په زغرده د افغانستان څخه ملاتړ اعلان کړ او د ۱۹۵۶ کال د جنوري په میاشت کې خروسچیف د شوروي اتحاد عالي شورا ته په وینا کې وویل:
« د افغانستان دا غوښتنه چې وایي د ګاونډي پښتونستان خلکو ته دې حق ورکړه سي چې خپله اراده په آزاده توګه بیان کړي منطقي او پر حقه ده. د دغې سیمي خلک، د نړۍ د نورو اولسونو په څېر، د سرنوشت د ټاکلو حق لري. »
خروسچیف په یوه بله رسمي وینا کې وویل: « پښتنو ته باید په یوه آزاده عمومي رایه ګیرۍ کې دا حق ورکړه سي چې دوی غواړي له پاکستان سره پاته سي؟ غواړي یو مستقل هیواد ولري او که غواړي چې له افغانستان سره یو ځای سي. » دا خبره په توجه ارزي چې په دې موضوع کې شورویان تر افغانانو هم یو ګام مخته ولاړل او په زغرده یې له افغانستان سره د پاکستان د پښتنو د یو ځای کېدلو اعلان وکړ. دا داسې دریځ وو چې تر دغه وخته پوري د افغانستان هیڅ حکومت نه وو اعلان کړی. په یوه بله وینا کې یې پاکستان د پښتونستان په علاقه کې د پوځي عملیاتو له امله وغانده او دا تهدید یې ورسره زیات کړ چې شوروي اتحاد، خپل جنوبي سرحد ته په دومره نیژدې سیمه کې، پوځي لمسونو ته لاس تر زني نه سي کښېنستلای.
د بیرغ له پیښې څخه څو کاله مخکې هم شوروي اتحاد افغانستان ته د پوځي مرستو پیشنهادونه کول. د افغانستان مشرانو دا مرستې ځکه رد کړي وې چې هم دوی د شوروي په نیت کې شک درلود او هم د افغانستان خلکو له روسانو څخه نفرت درلود. له دغه احساس سره له خارجیانو له نفوذ څخه د دوی عنعنوي نفرت هم ملګری سوی وو. اوس د بیرغ د پیښې په نتیجه کې داوود خان له شوروي اتحاد څخه پوځي مرستې ومنلې. ده د افغانستان د خلکو له نا رضاییت او د هغه سپکاوي له لیدلو څخه چې د بیرغ د پیښې په نتیجه کې ورباندې راغی استفاده وکړه او د ۱۹۵۵ کال د نومبر په میاشت کې یې یوه لویه جرګه راوبلله. ده د لویې جرګې مخې ته دا سوالونه کښېښودل:

۱ - د افغانستان حکومت د پښتونستان ملاتړ ته دوام ورکړي؟
۲ - که جواب مثبت وي نو حکومت له هرې لارې چې وي خپل پوځي قوت تقویه کړي؟
۳ - د لویې جرګې غړي پوهېدل چې دوهم سوال د شوروي څخه د وسلو د اخیستلو په باره کې دی. په جواب کې یې ورته وویل:
۱ - بلې، دا د افغانستان د حکومت او خلکو وظیفه ده چې د پښتونستان د خلکو د سرنوشت د حق څخه دفاع وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۲ - بلې، د افغانستان حکومت، له هري لاري چي کيږي، د خپل عزت او وقار له ساتلو سره، خپل پوځ تقويه او سمبال کړي.
داوود خان، د لويی جرګې د فيصلې له اخيستلو سره، د پوځي مرستو په برخه کي، د شوروي هغه پټ پېشنهاد ومانه چي خروسچيف او بولګانين، د لويي جرګې له غونډي څخه يوه مياشت وروسته، افغانستان ته وړاندي کړی وو. دا يوه مرګانۍ فيصله وه، ځکه چي له دغه ځايه د افغانستان په پوځ کي ورانکاري پيل سوه او په ۱۹۷۸ کال کي کمونيستانو داوود خان قتل کړ او قدرت يې ونيوی او په ۱۹۷۹ کال کي شوروي اتحاد پر افغانستان باندي يرغل وکړ.
کله چي داوود خان د روسيې څخه لويی اقتصادي او پوځي مرستي ومنلې نو متحده ايالاتو افغانستان ته د مرستو ورکولو د پېشنهادولو ترڅنګ يو قوي خبرداری هم ورکړ. په کابل کي د امريکا سفير وارډ، د خپل حکومت له هدايت سره سم، داوود خان ته ورغی او هغه ته يې وويل چي د شوروي دونه زياتي اقتصادي مرستي به بالاخره هغه هيواد ته د افغانستان د اقتصاد د کنټرولولو واک ورکړي او د افغانستان په پوځ کي به يوه ورانکاره قوه منځته راوړي. داوود خان په ډېر غرور جواب ورکړ چي امريکايان له روسانو څخه بيخي ډير بيريږي او افغانان پوهيږي چي له روسانو سره څه ډول سلوک وکړي او دا کار يې له ډيرو کلونو راهيسي کړی دی. ده دغه راز د وارډ خبري په تروش تندي رد کړې او ورته وې ويل چي افغانستان خو له امريکا څخه څو څو ځله د وسلو غوښتنه وکړه مګر د افغانانو د دونه زياتو غوښتنو سره سره هم تاسي زموږ د پنځه کلن پلان سره مرسته ونه کړه.
××××××××××××××××××××××××××
په ۱۹۵۵ کال کي د بيرغ له پيښي څخه بيا تر ۱۹۵۸ کال پوري خو وضع په ظاهره آرامه وه مګر د پردې شا د روسانو اقتصادي او مالي مرستو خپل زور ښکاره کاوه. په ۱۹۵۸ کال کي جنرال محمدايوب خان، په پاکستان کي، له جنرال سکندرميرزا څخه، قدرت ونيوی. ايوب د هزاره د سيمي سپين ترين پښتون وو. د هزاره سيمه د شمال لوېديځ سرحد په ايالت کي پرته ده مګر د پښتنو تر قبايلي علاقې پنجاب ته نيژدې ده. که څه چي ده ادعا کوله چي د پښتنو په باره کي په هر څه پوهيږي مګر دی، له خپلو پښتنو قوميانو څخه ډېر ليري، د برتانيې په مکتبونو او د برتانوي هند په پوځ کي روزل سوی وو. ده سمدستي اعلان وکړ چي د افغانستان او د هغوی د پښتونستان د جنجالي ادعا په مقابل کي به سخت دريځ غوره کړي. ده ادعا کوله چي يو صاف پښتون عسکر دی او دا ورته معلومه ده چي افغانان يوازي د زور په ژبه ښه پوهيږي. د امريکا مقاماتو د سولې او اعتدال په برخه کي سلامشورو ته دوام ورکړی وو مګر د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړيکي ورځ په ورځ خرابېدل.
د ۱۹۵۹ کال په منځ کي، ايوب په کراچي د امريکا سفيرجېمز لينګلي ته وويل چي په افغانستان کي د شوروي د نفوذ له امله سخت اندېښمن دی. ده وويل چي افغانستان ته د شوروي د پورونو اندازه دريو سوو ميليونو ډالرو ته رسيږي او افغانستان ځکه دا پيسې بيرته نه سي ورکولای چي د حکومت بوديجه يې له کاله څه کم پنځوس ميليونه ډالره ده. ده ادعا کوله چي شوروي اتحاد د افغانستان پوځ، په بشپړه توګه، په وسلو سمبال کړی دی او ټانکونه او عصري جنګي الوتکي يې ورکړي دي. دا چي دا ټول قراردادونه او عمليات په ډېر پټ صورت ترسره سوي دي نو له دې څخه د شوروي بد نيت ښکاره کيږي. شورويانو دغه راز د افغانستان څه باندي څلوېښت فيصده تجارت اشغال کړی وو. د ايوب په نظر، شورويانو، ټول عملي مقاصد ترسره کړي دي، افغانستان يې اخيستی او اوس د پاکستان په دروازه کي ولاړ دي. داوود خان، د هماغه کال په پای کي، د ايوب خان شکايت، تر يوه ځايه، هغه وخت تاييد کړ چي د پاکستان پولي ته نيژدې يې د يوه قبيلوي ښورښ د ځپلو په وخت کي د شوروي په وسلو سمبال پوځ څخه کار واخيست. ايوب په مقابل کي سخت ډيپلوماټيک احتجاج وکړ او پر شاهي کورنۍ باندي يې شخصي حملې وکړې.
د ډسمبر په مياشت کي، ايزنهاور هندوستان ته د تګ په لاره کي، شپږ ساعته په کابل کي تم سو. د ده لويه الوتکه د کابل په هوايي ډګر کي نه سوای کښته کېدلای نو د بګرام شوروي ساخته پوځي هوايي ميدان ته ولاړه. کله چي دی له خپلي مخصوصي الوتکي څخه کښته سو او روسي ګارډ سلامي ورته وکړه نو دی هک پک سو. په کابل کي د دې څو ساعتونو تېرولو په ترڅ کي، د چهلستون د قصر په زينوکي د پورته کېدلو په وخت کي يوه سپکه قلبي حمله هم ورباندي راغله؛ دوی نه وه خبر چي کابل د بحر له سطحي څخه شپږ زره فوټه لوړ دی. په دې لنډ وخت او دغه حالت کي هغه طبعاً کوم لوی کار نه سوای کولای او افغانان دې ټکي ته ښه متوجه وه چي د شوروي مقاماتو په کابل کي څو شپې تيري کړي وې، او په هغه تناسب دا څو ساعته هيڅ هم نه وه.
د پاکستان او افغانستان ترمنځ تاوتريخوالی د انفجار سرحد ته رسېدلی وو. جمهوررئيس ايزنهاور او د هغه خارجه وزير کرئيسټين هرټر Christian Herter کوښښ وکړ چي دواړه هيوادونه سره جوړ کړي. د داوود خان ورور د صدراعظم مرستيال سردار نعيم، د امريکايانو د غوښتنو سره سم، پاکستان ته سفر وکړ څو له ايوب خان سره وګوري. دا غونډه يوه فاجعه وه. سردار نعيم ويل چي ايوب خان نه غوښتل جدي خبري وکړي بلکه ده ته يې ليکچر ورکاوه. ايوب خان، په ډېر غرور، په پښتو خبري کولې؛ ځکه پوهېدی چي سردار نعيم په پښتو سمي خبري نه سي کولای او دا کار يې د نعيم خان د سپکولو لپاره کاوه. ايوب خان له يوه سند څخه د شکايتونو يو ليست ورته ولووست او په ضمن کي يې تهديدونه وکړل او نعيم خان ته يې ور وفهمول چي که افغانستان د پاکستان د اتباعو له وفادارۍ سره غرض


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وکړي نو پاکستان به افغانستان له مځکي سره سم کړي. نعیم خان په ډېر ادب له مجلس څخه ولاړ سو او یوه کلمه یې هم ونه ویل.

د ایوب خان او نعیم خان د کتني له ناکامۍ څخه څرګنده سوه چي افغانان پر خپله خبره ټینګ ولاړ دي او له دې خبرو څخه وروسته داوود خان د پولي څخه هاخواته یوه سلسله پوځي عملیات وکړل او خپل پوځیان به یې د قبیلوي خلکو په څېر جوړ کړي وه. په دې کي تر ټولو جدي پېښه په ۱۹۶۰ کال کي د پاکستان په شمال کي د باجوړ په علاقه کي منځته راغله. قبیلوي خلک، چي د پوځیانو قطعې ورسره ملګري وې، شپږ میله د باجوړ علاقې ته ننوتل. له دوی سره هم د باجوړ خلکو اوهم د پاکستان پوځیانو مقاومت وکړ او افغانانو ډېره سخته ماته وخوړه. دې ته ورته نوري پېښې هم وسوې او، تر ۱۹۶۱ کال پوري، پاکستان د انتقام اخیستلو فیصله وکړه او دا تور یې ولګاوه چي د افغانستان کونسلګرۍ او تجارتي نمایندګۍ د جاسوسانو او لمسوونکو ځالي دي. پاکستان د ۱۹۶۱ کال د اګسټ پر دیرویشتمه یو ناڅاپه په افغانستان کي خپلي کونسلګرۍ وتړلې او له افغانستان څخه یې وغوښتل چي په پاکستان کي خپلي کونسلګرۍ او تجارتي نمایندګي وتړي. دا په حقیقت کي یو بل سخت ټرانزیټي بندیز وو؛ ځکه چي د افغانستان مالونو ته ، په پاکستان کي د کونسلګریو او تجارتي نمایندګیو پرته، اسناد برابرېدلای نه سوای.

یوه هفته وروسته، افغانستانته یواولټیماټوم ورکړ او ورته وې ویل چي یا دي پاکستان د افغانستان د کونسلګریو د بندولو فیصله وګرځوی او یا به افغانستان له پاکستان سره ډیپلوماټیک اړیکي وشلوي. پاکستان خپأه فیصله بدله نه کړه او افغانستان، د ۱۹۶۱ کال د سپټمبر پر شپږمه، له پاکستان سره خپل ډیپلوماټیک اړیکي پرې کړل. افغانستان دا ځل داسي عمل وکړ چي یوازي هغه کسان چي د پښتنو له ذهنیت سره اشنا وي وربانديٍ پوهېدلای سي. دوی له پاکستان سره خپل سرحدات د ټول ټرافیک او تجارت پر مخ په یو اړخیز ډول وتړل. حتی هغه چي د افغانستان د کونسلګریو یا تجارتي نمایندګیو اجازې ته یې ضرورت نه درلود هم بند سول. افغانستان، خپل ځانته په دې زیان رسونکي عمل سره، د ټولو هغو موادو واردول بند کړل چي د خپلو هغو انکشافي پروژو لپاره یې ضرورت ورته درلود چي متحده ایالاتو، نورو لوېدیځو هیوادونو او ملګرو ملتونو تمویلولې. شورویان د خپل سرحد له لاري په آزادانه توګه افغانستان ته داخلېدلای سوای. پاکستان، د افغانستان له خوا د سرحدونو د تړلو د عمل په مقابل کي، ټول کوچیان، چي له ډېرو پخوا زمانو څخه په ژمي کي د پاکستان تودو سیمو ته تلل او د سوداګرۍ او کاروبار له لاري به یې یو څه پیسې پیدا کولې، له خپلي خاوري څخه بند کړل. د کوچیانو د سوداګرۍ او کاروبار بندېدلو پر افغانستان باندي ډېر زیات اقتصادي او سیاسي فشار وارد کړ او مجبور وو چي اوس د ژمي په موسم کي د خپلو کوچیانو غم وخوري. دا هغه څه وه چي پاکستان غوښتل.

دا چي د ۱۹۶۱ کال دغه بحران څه راوستل سړی په مشکله څه ویلای سي. لویي ډوپري وایي ایوب دا وخت تازه امریکا ته له سفر څخه را ستون سوی وو او په دې نه وو بریالی سوی چي د کینیډي له حکومت څخه، د کشمیر د مسلې د حلولو لپاره پر هند باندي د زیات فشار په اچولو کي مرسته ترلاسه کړي؛ ایوب د خپل مستبد رژیم په مقابل کي، بلي خواته د نارضاییانو د توجه اړولو لپاره، یوه ډیپلوماټیک بري ته ضرورت درلود. ده فکر کاوه چي اقتصادي محاصره به افغانستان تسلیمېدلو ته مجبور کړي او دې ته به یې راولي چي د پښتونستان مسله د ده له شرایطو سره سمه حل کړي.

د ایوب دغه توندرو پالیسی دوه کاره وکړل: په افغانستان کي یې د آزادي نړۍ د مرستو پروژې په بشپړه توګه ودرولې او افغانستان یې له شوروي بلاک سره ډېر اتحاد ته مجبور کړ. د امریکا پروژې خصوصا ځکه ډېري تاواني سوې چي هغوی تازه په کار پیل کړی وو او د هغو په کارونو کي، د بېځایه دفتري لانجو له امله، ډېر ځنډ راغی. د دې پروژو لپاره اکمالات او وسایل د کراچي په بندرکي بند پاته سول.

جمهوررئیس کینیډي، په ۱۹۶۰ کال کي له انتخابېدلو څخه لږ وروسته، د افغانستان او پاکستان په اړیکو کي یوې جدي ستونزې ته متوجه سو. ده ظاهرشاه ته یو لیک واستاوه او له پاکستان سره د اختلاف په حلولو کي یې د مرستي کولو پېشنهاد وکړ. ظاهرشاه په جواب کي د افغانستان پر تاریخي ټرانزیټي حقوقو ټینګار وکړ او وې ویل چي ټرانزیټي حقوق باید د پښتونستان له سیاسي مسلې سره ونه تړل سي. ده د کینیډي د پېشنهاد هرکلی وکړ. ایوب هم زړه نازړه د امریکا پېشنهاد قبول کړ. کینیډي د اکټوبر په میاشت کي یو تجربه کار ډیپلومات لیوینګسټن مرچنټ Livingsgton Merchant د خپل استازي په حیث مقرر کړ او هغه ته یې د پاکستان او افغانستان د پخلا کولو وظیفه ورکړه.

مرچنټ له ایوب سره په خپله لومړنۍ کتنه کي تر پایه دا خبره واورېدله چي امریکا د ډیورنډ کرښه د یوه بین اللمي سرحد په حیث پېژندلې ده او د ۱۹۵۶ کال د مارچ پر یوولسمه یې د سیټو SEATO په اعلامیه کي خپل دغه دریځ تایید کړی دی. د مرچنټ په نظر، د روان بحران علت دا وو چي ایوب غواړي چي یو مستحکم پاکستان تاسیس کړي او په دې کوښښونو کي ناکام سوی دی. څرنګه چي ایوب په اساسي قانون کي د نویو اصلاحاتوراوستلو ژمنه کړې وه ، له پوځي واکمنۍ څخه ملکي واکمنۍ ته د پېشنهاد کړي انتقال مرحله یې ټاکلې او د کشمیر لانجه بیرته را پورته سوې وه نو دی د پښتنو په منځ کي د هغو قواوو په مقابل کي بې اندازې حساس وو چي د پنجاب له مرکزي ادارې سره یې مخالفت کاوه؛ که څه هم چي ده په ظاهره ځان ډېر زړه ورښکاره کاوه او ویل به یې چي ټول پښتانه د پاکستان وفادار



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اتباع دي. دی د افغانستان تبلیغاتو او په پاکستان کي د هغه هیواد د کونسلګريو او تجارتي نمایندګیو فعالیتونو سخت په غوسه کړی وو.
مرچنټ د ۱۹۶۱ کال د اکتوبر او نومبر په میاشتو کي د پاکستان او افغانستان تر منځ تګ راتګ وکړ. له ظاهرشاه، داوود خان او سردار نعیم سره یې وکتل او په کراچي کي یې هم له ایوب خان او د هغه له سلاکارانو سره دغه ته ورته ناستي وکړې. دا ډېره ژر څرګنده سوه چي لویه موضوع په پاکستان کي د افغانستان د کونسلګريو او تجارتي نمایندګیو بیرته پرانیستل کېدل دي. افغانستان ویل چي تر څو پوري دغه اداري بیرته پرانیستلي سوي نه وي خبرو ته نه حاضرېږي. دوی ویل چي افغانستان ته د ټرانزیټ مالونو انتقال د علم وخبر په نوم اسنادو ته ضرورت لري چي یوازي یې په پاکستان کي افغان مامورین ورکولای سي. پاکستان دې خبري ته سر نیولی وو چي په هیڅ توګه د افغانستان د تجارتي نمایندګیو له بیرته پرانیستل کېدلو سره، چي دوی د جاسوسانو او لمسوونکو ځالي بللي، موافقه نه لري. دوی ادعا کوله چي د افغانستان حکومت، په پاکستان کي، د کونسلګريو او تجارتي نمایندګیو له درلودلو پرته، علم و خبر ورکولای سي.
مرچنټ د نومبر په میاشت کي خپل وروستنی کوښښ وکړ. ده یوه ګډه اعلامیه ولیکله چي دواړه هیوادونه یې په یوه وخت کي صادره کړي. په دې کي راغلي وه چي ټرانزیټ به له سره پیل کیږي؛ کونسلګری او تجارتي نمایندګی به بیرته پرانیستل کیږي او دواړه هیوادونه به ډیپلوماتیک اړیکي له سره پیل کوي. پاکستان دا اعلامیه رد کړه او وې ویل چي امریکا له افغانستان سره بې اندازې نرم سلوک کوي. امریکا باید په کلکه ودریږي. دوی ویل چي یوه ټینګه ستراتیژي به افغانستان لاري ته راولي او که له دوی سره نرم سلوک وسي نو دوی به د شوروي پر دوستی باندي نور هم ټینګ سي. مرچنټ وروسته نوري طرحي هم وړاندي کړې چي په هغو کي په موقتي توګه د ډیپلوماتیکو دفترونو او تجارتي نمایندګیو پرانیستل راغلي وه خو پاکستان ټولي طرحي رد کړې. په پای کي مرچنټ دې نتیجې ته ورسېدی چي ټرانزیټ د پښتونستان له مسلې څخه جلا کول ممکن کار نه دی؛ نو دی فقط بیرته روان سو او اعلامیه یې صادره کړه چي د ده ټول کوښښونه ناکام سول.
ولي د امریکا دا مهم ډیپلوماتیک ماموریت ناکام سو؟ سردار نعیم ویل علت یې داوو چي مرچنټ بېطرفه نه وو دا ځکه چي (الف) پاکستان د امریکا یو متحد هیواد وو؛ (ب) امریکا په پېښور کي یوه پټه هوایي اډه درلوده چي له هغې څخه U-2 پروازونه کېده او امریکا مجبوره وه چي د دغي اډې له امله د پاکستان طرفداري وکړي؛ (ج) متحده ایالاتو او پاکستان دواړو فکر کاوه چي افغانستان د شوروي د لاس پټه آله ده او (د) متحده ایالاتو ته افغانستان ستراتیژیک اهمیت نه درلود او د سیمه ایز امنیت لپاره یې مهم نه باله. که څه هم چي دغه ارزیابي به په بشپړه توګه سمه نه وه خو یو څه حقیقت پکښي پروت وو. دا حقیقت په کابل او کراچي کي د امریکا د سفارتونو په هغه اختلاف کي څرګندیږي چي د دغه بحران د علتونو په باره کي یې لري. په کابل کي د امریکا سفارت په دې عقیده وو چي پاکستان غواړي افغانستان تسلیم کړي او د پښتونستان له داعیې څخه یې تېرېدلو ته مجبور کړي. په کراچي کي د امریکا سفارت په دې عقیده وو چي پاکستان د افغانستان د لمسونو او ورانکاریو فعالیتونو ته جواب ورکوي. افغانستان د سرحد په دې خوا حملې کوي او په پاکستان کي پښتانه بښورښ ته پاروي.
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ